

# روحاني تحفه

پښتو ژباړه او ترتیب وتخریج


الحاج مولوی عبدالحنان صاحب مدظلهم

خادم مدرسه عربیه اسلامیه

وخطیب جامع مسجد رحماني لښکرګاه، هلمند

معاون: احمد یاسین عفاالله عنه


Download from:aghalibrary.com

ویب پاڼه: www.jamairahmani.org

منقول و منتخب دعاګاني او دبزرګانو مجرب اوراد و اذکار

# روحاني تحفه

پښتو ژباړه او ترتيب وتخريج

الحاج مولوی عبد الحنان صاحب مدظلهم

خادم مدرسه عربيه اسلاميه

وخطيب جامع مسجد رحماني لښکرګاه، هلمند

معاون: احمد یاسین عفا الله عنه

ويب پاڼه: www.jamairahmani.org

منق

# د کتاب پېژندنه


د کتاب نوم: روحاني تحفه

مخرج او ژباړه: مولوي عبد الحنان صاحب مدظلهم العاليه

معاون: احمد یاسین عفا الله عنه

د چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

د چاپ نېټه: ۲۰/ ۲/ ۹۲

ویب پاڼه: www.jamairahmani.org

تلیفون: ۰۷۰۴۹۶۲۱۶۳ - ۰۷۰۶۶۳۹۱۹۴

مالي لګښت: د عامو مسلمانانو په شخصي مرسته سره

# فهرست



| شمیره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| ۱ | حدیث شریف | ۱ |
| ۲ | د الله جل جلاله رضا | ۴ |
| ۳ | د کور ښځه د وتلو دعاء | ۵ |
| ۴ | په جنت کښې داخله | ۶ |
| ۵ | د دوزخ ځخه نجات او خلاصون | ۷ |
| ۶ | لس لکه نیکیاني حاصلېدل او لس لکه ګناهونه معاف کېدل | ۸ |
| ۷ | د ډوډی د خوړلو دعاګاني | ۹ |
| ۸ | د شیطان د وسوسو ځخه نجات او خلاصون | ۱۰ |
| ۹ | د قیامت په ورځ ترټولو ښه او افضل عمل | ۱۱ |
| ۱۰ | د الله جَلَّ جَلَالُهُ په عشق سره ملقبه او مشرفه کېدل | ۱۲ |
| ۱۱ | د شهادت مرګ | ۱۳ |
| ۱۲ | د اویازرو ۷۰۰۰۰ ملائیکو دعاء | ۱۴ |
| ۱۳ | د جنت خزانه | ۱۶ |
| ۱۴ | د سهار او ماښام تسبیحات | ۱۷ |

| شمېره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۵ | په ټوله ورځ کښې فقط يو وار ويل | ۲۰ |
| ۱۶ | هره ورځ اوويشت (۲۷) واره | ۲۰ |
| ۱۷ | د شهادت د درجې د حاصلولو طريقه | ۲۱ |
| ۱۸ | سيد الاستغفار | ۲۲ |
| ۱۹ | د قبر د عذابه څخه حفاظت | ۲۳ |
| ۲۰ | ټوله ګناهونه معاف کېدل | ۲۳ |
| ۲۱ | د ټوله دنياوي آفتونو څخه حفاظت | ۲۴ |
| ۲۲ | د ټولو ګناهونو کفاره | ۲۴ |
| ۲۳ | د مرګ د وخت دعاء | ۲۵ |
| ۲۴ | لږ عمل او ډېر زيات ثوابونه | ۲۶ |
| ۲۵ | د جمعې د ورځې مخصوص اعمال | ۲۷ |
| ۲۶ | د اشراق لمونځ | ۲۹ |
| ۲۷ | د قرآن کريم د مختلفو سورتونو د تلاوت فضيلتونه | ۳۰ |
| ۲۸ | آخري درخواست او غوښتنه | ۳۱ |

بسم الله الرحمن الرحيم

# حديث شريف

دنبي كريم صلى الله عليه وسلم ارشاد مبارك دى چي په دنيا كښې انسان د درو شيانو څخه ماسوا په نورو شيانو كښې حق نه لري: (١) داوسېدلو كور (٢) دومره اندازه جامه چي د شرم اندامونه يې پټ كړي (٣) وچه ډوډى او اوبه. مطلب د حديث شريف دادى چي الله جل جلاله د دغه شيانو په باره كښې د انسان څخه سوال نه كوي.

البته د دې څخه ماسوا چي هر څه د بنده په استعمال كښې راځي د هغه په باره كښې سوال كيږي او د هغه په بدله كښې د عمل كولو غوښتنه كيږي. لهذا كوم بنده چي د دنيا د شيانو څخه څومره كم شيان استعمال كړي وي د آخرت په ورځ د هغه په قدر او اندازه سره په فائده

کښې وي . او د داسې بنده د پاره به يوه کوچنی عمل هم د آخرت د ورځې د سختيو څخه د نجات سبب جوړيږي .
لکه په يو بل حديث مبارک کښې چې راغلي دي: کوم بنده چې پر لږ رزق او روزي باندې راضي سي الله جل جلاله د هغه پر لږ عمل باندې راضي کيږي. د غه حديثونه چې ذکر سول که لږ موږ او تاسي پر خپلو ځانونو باندې غور او فکر وکړو چې شپه او ورځ موږ د الله جل جلاله د څومره ډيرو نعمتونو څخه فيض يابه او استفاده کوونکي جوړيږو او د دغه نعمتونو په بدله کښې مو آخر کوم عمل الله جل جلاله ته پيش کړی دی .
که چيري خدا نخواسته د هم د غه غفلت په حالت کښې مرګ راسي نو الله جل جلاله ته به په کوم مخ ور وړاندې سو ؟ لږ او ډيري کومې نېکياني چې مو کړي دي هغه خو به د الله جل جلاله د بې شمېره نعمتونو په مقابله کښې نيستي او کالعدمه سي . لهذا موږ ته پکار دي

چي د الله جل جلاله څومره ډېر نعمتونه چي موږ ته په هر وخت او هر آن کښې حاصل دي د هغه څخه څو چنده موږ د نيکيو ذخيره هم جوړه کړو ، او څومره مقدار نيکباني چي کولای سو د هغوی په کولو کښې کوتاهي ونه کړو او هيڅ مقدار زيات ونه بولو چي نور نو بس ده. مثلا ديوه ذکر په کولو سره شل لکه نېکياني حاصليږي او بل ذکر کښې تر دې زياتي حاصليږي نو دا سوچ بيا نه دی پکار چي موږ خو نو اوس ډيري نېکباني وکړې بلکي دا فکر پکار دی چي د غه نېکباني د الله جل جلاله د نعمتونو په مقابله کښې هيڅ هم نه دي . لهذا زه بايد دومره نېکباني وکړم څومره چي کولای سم څه معلومه ده د غه قيمتي ساوي چي الله جل جلاله په راضي کيږي او جنت په حاصليږي يوه ورځ و دريږي او موږ يو وار سبحان الله ويلو ته هم بيا زيات محتاجه سو. لهذا د د غه ساګانو د قيمتي جوړولو د پاره مو د مختلفو

کتابونو څخه چي مو څه راټول کړي غواړو هغه ستاسي په حضور کښي پېش کړو . او دامو یوه غوښتنه او استدعا ده چي تاسي دغه کتابچه په خپلو وطاقونو دوکانونو دفترونو کښي مخامخ ځانونو ته نږدې وساتئ چي روزانه د دغه ذکر سوو دعاګانو ورد وکړای سی .

## ( ۱ ) دالله جل جلاله رضا

(رَضِيتُ بِاللّٰهِ رَبًّا، وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا،
وَبِمُحَمَّدٍ رَسُولًا)

دنبي کريم صلی الله عليه وسلم ارشاد مبارک دی چي څوک سهار او ماښام دغه دعا ووايي پر الله تعالی باندي حق دی چي ددغه دعا ويونکی به د قيامت په ورځ راضي کوي يعني جنت ته به يې داخلوي .

اودطبراني شريف په روايت کښې دي چي نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چي زه ضامن يم ددغه دعا دويونکي دپاره چي ترلاس به يې نيسم او جنت ته به يې داخلوم. (سنن ابن ماجة ج۲ ص۱۲۷۲ حديث نمبر ۳۸۷۰ مکتبه شامله / ابوداود ج۲ ص ۸۷ باب الاستغفار مکتبه شامله / سنن الترمذي ج۵ ص ۴۶۵ مکتبه شامله / المعجم الکبير للطبراني ج ۲۰ص ۳۵۵ مکتبه شامله)

## (۲) دکوره څخه دوتلو دعا

(بِسْمِ اللَّهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللَّهِ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ)

دنبي کريم صلى الله عليه وسلم ارشاد مبارک دی چي کوم کس دکوره څخه دوتلو په وخت کښې دغه پورته ذکر سوې دعا ووايي بيا ترڅه وخته چي ترکوره پوري راځي نو دهر ضرر او شيطان څخه به محفوظه وي او

دکومو کارونو دپاره چي وتلی وي هغه به الله جل جلاله تولهپوره کړي .

( سنن الترمذی ج ۵ ص ۴۹۰ باب ما یقول إذا خرج من بیته ، مکتبه شامله بیروت چاپ )

## (۳) په جنت کښې داخله

اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ لَا تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ مَنْ ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِنْ عِلْمِهِ إِلَّا بِمَا شَاءَ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَلَا يَئُودُهُ حِفْظُهُمَا وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ (سورة البقرة، آیات ۲۵۵)

په حديث شريف کښې راغلي دي چي کوم سړی د هر فرض لمانځه څخه وروسته اية الکرسي شريفه ووايي نو دده او د جنت د داخلېدو تر مېنځ فقط مرګ او موت پرده ده ( چي مړسي فورا به جنت ته ځي ) (رواه النسايئ)

# (۴) د دوږخ څخه نجات او خلاصون

## (اللَّهُمَّ أَجِرْنِي مِنَ النَّارِ) اوه واره

په حديث شريف کښې راغلي دي چي کوم کس د ما ښام د لمانځه څخه فارغه سي ديوچا سره تر خبرو کولو مخکښې د غه لوړه ذکر سوې دعا اوه (۷) واره ووايي او بيا په هغه شپه وده ته مرګ راسي نو د دوږخ څخه به

دهمېشه دپاره محفوظه سي . او که چيري دغه دعا اوه (۷) واره دسهار تر لمانځه وروسته ووېل سي او په هغه ورځ دغه کس مړ سي نو د دوږخ څخه به محفوظه سي .( مشكوة المصابيح بحواله ابوداود ج۱ص ۷۴۱ مكتبه شامله بيروت چاپ )

# (۵) لس لکه نېکياني حاصلېدل او لس لکه ګناهونه معاف کېدل

لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَــــهُ، لَــــهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، يُحْيِي وَيُمِيتُ، وَهُوَ حَيٌّ لَا يَمُوتُ، بِيَدِهِ الْخَيْرُ كُلُّهُ، وَهُــــوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ

په حديث شريف کښې راغلي دي چي په بازار کښې د

دغه‌لوړي ذکر سوې دعا کوونکي مسلمان دپاره الله جل جلاله لس لکه (۱۰۰۰۰۰۰) نېکيانې ليکي او لس لکه (۱۰۰۰۰۰۰) ګناهونه ورته معاف کوي ، او لس لکه (۱۰۰۰۰۰۰) درجې ورته لوړوي ، او ددې څخه علاوه په جنت کښې ورته يو عالي شان محل تياروي .
لهذا دغه دعا په بازار کښې ډېره ويل پکار ده .

( سنن الترمذي ج۵ ص ۴۹۱ باب ما يقول إذا دخل السوق مکتبه شامله بيروت چاپ / سنن ابن ماجة ج۲ ص ۷۵۲ باب الأسواق ودخولها ، مکتبه شامله بيروت چاپ )

# (۶) د ډوډۍ دخوړلو دعاګاني

کوم شخص چې د ډوډۍ خوړلو په شروع کښې دغه دعا ووايي :

بِسْمِ اللهِ وَعَلى بَركَةِ اللهِ

او د ډوډۍ په آخره کښې دغه دعا ووايي

(اَلْـــحَمْدُ لِلهِ الَّذِى هُوَ اَشبَعَنَا وَ اَروَانَا

وَ اَنعَمَ عَلَينَا وَ اَفضَلَ )

نـو دداسـي شـخص څخـه بـه د قيامـت پـه ورځ د ده د خوراک په باره کښې سوال ونه سي. که چيري ديو چا څخه د ډوډی په شروع کښې بسم الله ويل هير سي په مينځ کښې د ډوډی يې را پـه يـاد سي نو دي دغه دعا وو ايي :( بِسمِ اللهِ اَوَّلَهُ وَ آخِرَهُ ) (رواه الترمذی)

## (۷) دشيطاني وسوسو څخه نجات او خلاصون

(رَبِّ أَنْزِلْنِي مُنْزَلًا مُبَارَكًا وَأَنْتَ خَيْــــرُ الْمُنْزِلِينَ) سورة المؤمنون ايت ۲۹ پاره اتلس .

کوم شخص چي د شيطاني وسوسو څخه ډېر په تکليف وي نو هغه کس دي دغه لوړ ذکر سوی آيت مبارک په خشوع او خضوع (عاجزۍ) والا لمونځ کښې ډېر وايي الله جل جلاله به يې د شيطان د وسوسو څخه خلاص کړي .

## (٨) دقيامت په ورځ تر ټولو ښه او افضل عمل

په حديث شريف کښې راغلي دي چي کوم کس (که نر وي که ښځه) دورځي (١٠٠) واره (سُبحَانَ اللهِ وَ بِحَمدِهِ) وو ايي الله جل جلاله به دده ټوله ګناهونه ورو بخښي که څه هم د درياب او سمندر د ځګ څخه زيات وي . او کوم کس چي روزانه دغه کلماتي سل واره و ايي د قيامت په ورځ به هيڅوک تر ده ښه او

افضل عمل والا بل كس نه وي مګر هغه كس چي دده په اندازه يا تر ده يې زياتي دغه كلماتي ويلي وي.
(صحيح مسلم شريف ج ۴ ص ۲۰۷۱ باب فضل التهليل والتسبيح والدعاء مكتبه شامله بيروت چاپ/ هكذا فى الترمذى والنسائي)

# (۹) دالله جل جلاله په عشق سره ملقبه او مشرفه كېدل

## (سُبحَانَ اللهِ وَ بِحَمدِهِ)

حضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنه دنبي كريم صلى الله عليه وسلم څخه روايت نقل كوي چي كوم كس په كومه ورځ چي وي دغه ذكر سوي كلماتي زر واره وو ايي نو دغه كس دالله جل جلاله څخه خپل نفس او ځان رانيوى او دعذابه څخه يې خلاص كړى او دژوند په آخره ورځ كښي به هغه دعتيق الله (داوره څخه آزاد كړل سوي) په لقب سره مشرفه او ملقبه كړل سي. فكر

کول پکار دی دا ځومره لوی سعادت دی ، د مسلمان
دپاره.

( المعجم الأوسط لسليمان بن أحمد بن أيوب بن مطير اللخمي الشامي، أبو القاسم الطبراني (المتوفى: ۳۶۰ھ مکتبه شامله ج ۴ ص ۲۰۳ حديث ۳۹۸۲ / المجالس السنية لابن مردويه )

# (۱۰) دشهادت مرګ

(لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِينَ ) (۸۷) ايت : سورة الانبياء

په يوه حديث شريف کښې راغلي دي چي کوم مسلمان د مريضۍ په زمانه کښې څلوېښت واره دغه آيت ووايي او بيا په دغه مريضۍ کښې پسې وفات سي نو الله جل جلاله به د شهيد مرتبه ورنصيب کړي . او که چيري جوړ سو نو دده ټول ګناهونه به معاف سي ، همداشان که چيري يو کس په يوې سختۍ او مصيبت

کنبې راتېنګ سي نو د دغه آیت کریمه د ویلو په برکت سره به یې الله جل جلاله هغه مشکل ورد فع او رفع کړي او د دغه آیت په ذریعه او وسیله سره چې کومه دعا وکړل سي هغه به الله جل جلاله قبوله او منظوره کړي.

(المستدرک علی الصحیحین لابی عبد الله الحاکم محمد بن عبد الله بن محمد بن حمدویه بن نُعیم بن الحکم الضبي الطهماني النیسابوري المعروف بابن البیع (المتوفی: ۴۰۵هـ ج ۱ ص ۶۸۵ حدیث ۱۸۶۵ کتاب الدعاء، والتکبیر، والتهلیل، والتسبیح والذکر مکتبه شامله بیروت چاپ)

## (۱۱) داویازرو (۷۰۰۰۰) زره ملائکو دعا

کوم شخص چې د ورځې او شپې درې واره دغه ذکر سوې دعا ووایي: (أَعُوذُ بِاللّٰهِ السَّمِيعِ العَلِيمِ مِنَ الشَّيطَانِ الرَّجِيمِ) او دهغه ځخه وروسته دسورة الحشر دغه درې ایاتونه د ورځې او شپې یو یو واري

ووايي نو دسهار څخه تر ماښامه پوري او د ماښام څخه تر سهاره پوري اويا زره (۷۰۰۰۰) فرښتې او ملائکي ددغه کس دپاره د مغفرت دعاګاني کوي. او که چيري په هم دغه ورځ يا شپه کښې دی وفات سي نو الله جل جلاله به يې د شهيدانو په ډله کښې راپورته او شمار کړي.

دسورة الحشر دري اياتونه دغه دي:

هُوَ اللَّهُ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ هُوَ الرَّحْمَنُ الرَّحِيمُ (۲۲) هُوَ اللَّهُ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْمَلِكُ الْقُدُّوسُ السَّلَامُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ (۲۳

هُوَ اللَّهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ لَهُ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَى يُسَبِّحُ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ (٢٤)

( سنن الترمذی ج۵ ص ١٢٨ حديث ٢٩٢٢ مکتبه شامله بيروت چاپ / هکذا فی الدارمي ورواه ابن السني رحمه الله تعالی )

# (١٢) دجنت خزانه

په حديث شريف کښې راغلي دي چې:

(لَا حَولَ وَلاَ قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ) دجنت دخزانو څخه يوه خزانه ده او دنهه نوي (٩٩) مرضونو دپاره دوا او علاج ده په کومو کښې چې ترټولو هغه کمه مريضي غم دی.

(صحيح البخاري مع فتح الباري ص ١١ / صحيح مسلم شريف ص ٢١٣ حديث ٢٧٠۴ / عمل اليوم والليلة للنسائي / الدعوات الکبير للبيهقي )

# (١٣) لاندي تسبيحات په پابندۍ سره بايد سهار او ماښام وويل سي

## اوله تسبيح (استغفار)

(أَسْتَغْفِرُ اللهَ الَّذِي لَا إِلَه إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ) كوم شخص چي دغه تسبيحاتي دري واره ووايي الله جل جلاله به دده ټوله ګناهونه ورمعاف کړي که څه هم د درياب د ځګ سره برابر وي. (الحصن الحصين ج١ ص ١٢٣ فصل فى النوم واليقظة مكتبه شامله بيروت)

## دوهمه تسبيح (دريمه کلمه)

( سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ للهِ وَلَا إِلَه إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكبرُ وَلَا حَوْلَ وَ لاَ قُوَّةَ الا بِـالله

الْعَلِيِّ الْعَظِيمِ) ددې تسبيحاتو ويل هم ډېر ثواب
لري فرشتې پر اسمانونو باندې دداسې کس دپاره
مغفرت غواړي او ددې دويلو څخه ګناهونه داسې
رژيږي لکه ديخ په موسم کښې چې د درختو څخه پاڼې
رژيږي : (الحصن الحصين ج١ ص ٢٧١ حديث البطاقة مكتبه شامله بيروت چاپ)

# دريمه تسبيح (درودشريف)

ترټولو افضل درود شريف هغه دى چې کوم چې په
لمانځه کښې ويل کيږي . په حديث شريف کښې راغلي
دي نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي کوم
شخص چې پرما باندې يو وار درود شريف وو ايي نو الله
جل جلاله به د هغه سل ضرورتونه ورپوره کړي يعني
سل ضرورتونه دآخرت او دېرش ددې دنيا. په بل حديث
شريف کښې راځي چې پر ما باندې په درود شريف ويلو

سره ستاسي ګناهونه داسي کميږي لکه په اوړسره چي اوبه کميږي . دلمانځه درود شريف دغه دی :

(اَللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّـــدٍ وَعَلَـــى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَـــى إِبْـــرَاهِيمَ، وعَلَى آلِ ابرَاهيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيـــدٌ، اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّـــدٍ وَعَلَـــى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَـــى إِبْـــرَاهِيمَ، وعَلَى آلِ ابرَاهيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ)

# (۱۴) په ټوله ورځ کښې فقط يو وار ويل

( لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحدَهُ لَاشَرِيکَ لَهُ اَحَداً صَمَداً لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ، وَلَمْ يَكُنْ لَــهُ كُفُوًا أَحَدٌ ) که چيري يو واري وويل سي نو شل لکه نيکياني الله جل جلاله بنده ته ورکوي. (ماخوذ از کتاب عمل مختصر ثواب زياده ص۲۰)

# (۱۵) هره ورځ اوويشت (۲۷) واره

( رَبَّنَا اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ يَقُومُ الْحِسَابُ ۴۱ سورة ابراهيم)

که چیري او ویشت واره روزانه وویل سي دآدم علیه الصلوة والسلام ثخه نیولې تر قیامته پورې چي څومره مسلمانان دنیا ته راځي دهغوی دشمېر په اندازه باندي ثوابونه به ورکړل سي.

( ماخوذ از کتاب عمل مختصر ثواب زیاده ص ۲۰ )

# (١٦) دشهادت د درجې دحاصلولو طریقه

کوم شخص چي روزانه پنځه ویشتت واره مرګ په یاد کړي هغه کس به دالله جل جلاله په حکم سره دشهادت په مرګ سره برخه مند سي دهغه دپاره دغه دعا دورځي پنځه ویشت واره ویل کافي ده.

(اَللّٰهُمَّ بَارِک لِی فِی المَوتِ وَ فِی مَا بَعدَالمَوتِ) ( ماخوذ از کتاب عمل مختصر ثواب زیاده ص ۲۱ )

# (۱۷)سيِّدُ الاستغفار

(اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لاَ إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ، وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ، أَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ، وَأَبُوءُ لَكَ بِذَنْبِي فَاغْفِرْ لِي، فَإِنَّهُ لاَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ)

دغه کلماتي دي سهار او مابنام يو واري ضرور وويل سي: په احاديثو مباركه وو كښې راځي چي كوم شخص دغه كلماتي سهار وواييي او مابنام مرګ ورته راسي نو دغه كس به دالله جل جلاله په حكم سره ضرور وجنت ته داخل سي ، همداشان كه څوك دغه

تسبيحاتي د شپې وو ايي او تر سهار پورې مړ ګ ورته راسي نو يې هم دغه فضيلت دی .

(صحيح البخاري ج۸ ص ۶۷ باب افضل الاستغفار مکتبه شامله بيروت چاپ/ سنن الترمذي ج۵ ص ۴۶۷ مکتبه شامله بيروت چاپ)

## (۱۸) دقبر دعذابه څخه حفاظت

کوم شخص چې سورة الملک او سورت سجدة د ما ښام او ماخوستن تر مېنځ وو ايي نو ګواکي دغه کس د شب قدر په شپه کښې قيام او عبادت وکړی الله جل جلاله به دغه کس د قبر دعذابه څخه محفوظه وساتي .

(ماخوذ از کتاب عمل مختصر ثواب زياده ص ۲۲)

## (۱۹) ټوله ګناهونه معاف کيدل

کوم شخص چې سورة يس هره ورځ په پابندۍ سره تلاوت کړي او بيا مړ سي نو پر شهادت باندي به ولاړ سي . او کوم شخص چې دغه سورت د الله جل جلاله

درضا دپاره وایي دهغه ټوله ګناهونه معاف کیږي .

( ماخوذ از کتاب عمل مختصر ثواب زیاده ص ۲۳ )

## (۲۰)دټوله دنیاوي آفتونو څخه حفاظت

کوم شخص چي سورة الکافرون د لمر راختلو په وخت کښي ووایي تر مرګ وروسته به جنت ته ځي.

( ماخوذ از کتاب عمل مختصر ثواب زیاده ص ۲۳ )

## (۲۱)دټولو ګناهونو کفاره

کوم شخص چي څلورمه کلمه د فرض لمانځه څخه وروسته دري واره ووایي نو دغه کس ته پر هر رکعت باندي داتیا کالو دعبادت ثواب ورکول کیږي ، او کوم شخص چي دا پر بستر باندي ووایي دهغه دټولو ګناهونو کفاره ګرځي . او که چیري څوک سهار

راکښیني بیا یې وواییې نو داویا کالو دعبادت ثواب ورکول کیږي.

ثلورمه کلمه دغه ده:( لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الحَمْدُ، يُحْيِي وَيُمِيتُ وَهُوَ حَيٌّ لَا يَمُوتُ، اَبَداً ، اَبَداً ذُوالجَلَالِ وَالاِكرَامِ بِيَدِهِ الخَيرُ وَ هُوَ عَلَى كُلِّ شيءٍ قَدِيرٌ)

( ماخوذ ازکتاب عمل مختصر ثواب زیاده ص ۲۴ )

## (۲۲) دمرګ دوخت دعا

کوم سړی چي په مرض الموت کښې دغه دعا څلویښت واره وواییې نو هغه به دشهادت دمرګ ثواب پیدا

کړي: لاَإِلَهَ إِلاَّ اللهُ، واللهُ اَكبَرُ وَ لاَحَـــولَ ولاَقُوةَ إلاّ باللهِ العَلِيِّ العَظِيمِ.

( ماخوذ ازکتاب عمل مختصر ثواب زیاده ص ۲۴ )

## (۲۳) لږ عمل او ډېر زیات ثوابونه

نبي کریم صلی الله علیه وسلم حضرت جویریې رضي الله عنها ته په داسي حال کښې راغلی چي هغه دسهار دلمانځه څخه نېولې بیا تر څاښته پوري پر مصلې باندي ناسته په تسبیحاتو باندي مشغوله وه. نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل ای جوېرېې کله چي زه ستا څخه جلا سوم نو مي څلور کلمې درې واره وویلې که چیري هغه څلور کلمې ستا د نن تهولي ورځې تسبیحاتو سره وتلل سي نو دغه څلور کلمې به ستا پر تسبیحاتو باندي درنې سي. هغه څلور کلمې دا دي :

(سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ عَدَدَ خَلْقِهِ وَرِضَاءَ نَفْسِهِ وَزِنَةَ عَرْشِهِ وَمِدَادَ كَلِمَاتِه)

(صحيح مسلم ج۴ ص ۲۰۹۰ مكتبه شامله بيروت چاپ / مشكاة المصابيح ج۲ ص ۷۱۲ مكتبه شامله)

# (۲۴) دجمعې دورځې مخصوص اعمال

کوم شخص چې سورة کهف د جمعې په ورځ باندې ووايي تر بلې جمعې پورې ددغه کس د ګناهونو کفاره ګرځي او د هغه دپاره به نور وګرځي . همدا شان څوک چې ( اَلبَاقِي ) چې د الله جل جلاله صفتي نوم دی سل واره ووايي نو ددغه کس ټول نېک عملونه به قبول سي همدا شان که چا د جمعې په ورځ( يَا غَفَّارُ اِغفِرلِى

ذُنُوبِی) وواییي نو الله جل جلاله به د دغه کس مغفرت وکړي. که چیرې څوک د جمعې په ورځ د ماز دیګر دلمانځه څخه وروسته پر خپل ځای باندې ناست وي او اتیا واره دغه درود شریف وواییي: (اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ وَعَلي اٰلِهِ وَسَلِّمْ تَسْلِیْمًا) نو الله جل جلاله به د دغه کس د اتیا کلونو ګناهونه ورمعاف کړي، او کوم کس چې د جمعې په شپه شلو ښت واره دغه کلمه وواییي د حج ثواب به پیدا کړي هغه شلورمه کلمه دغه ده: ( لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِیكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، یُحْیِي وَیُمِیتُ وَهُوَ حَيٌّ لَا یَمُوتُ، اَبَداً ،

اَبَداً ذُوالجَلَالِ وَالاِکرَامِ بِیَدِهِ الخَیرُ وَ هُوَ عَلَی کُلِّ شیءٍ قَدِیرٌ)

( ماخوذ از کتاب عمل مختصر ثواب زیاده ص ۲۷ )

# (۲۵) داشراق لمونځ

کوم شخص چي دسهار دلمانځه ځخه وروسته پر هغه خپله مصلی باندي ناست وي او په ذکر الهي سره مشغوله وي بیا دلمر دراختلو څه کړی وروسته راولاړ سي داشراق لمونځ اداء کړي نو دغه کس ته پر دغه عمل باندي دیوه قبول سوي حج او عمرې ثواب ورکول کیږي . ( ماخوذ از کتاب عمل مختصر ثواب زیاده ص ۲۷ )

# (۲۶)دقرآن کريم دمختلفو سورتونو دتلاوت فضيلتونه

که چيري چا سورة الزلزال ( اذا زلزلت الارض) په ورځ کښې دوه واره تلاوت کړی نو ګواکي يو قرآن کريم يې تلاوت کړی. او که چا سورة العاديات د ورځې دوه واره تلاوت کړی نوګواکي يو قرآن کريم يې ختم کړی. او که چا سورة الاخلاص ( قل هوالله احد سورت) درې واره تلاوت کړی نو ديوه قرآن کريم دتلاوت دثواب سره برابري لري. ( ماخوذ از کتاب عمل مختصر ثواب زياده ص ۲۸ )

# آخري درخواست او غوښتنه

ګرانو لوستونکو ستاسو په حضور کښې دیوې خبرې عرض کول ضروري بولم هغه داچې فقط دغه ذکر سوې اوراد او اذکار واعمال باید انسان خامخا دخپل نجات ذریعه ونه بولي بلکې ددې سره سره دغه لاندې امور او کارونه هم په نظر کښې نیول ضروري دي .

**اول :** دټولو فرائضو اداء کول او پر ځای کول ځکه چې دفرائضو داداء کولو وروسته پر نفلونو باندې ثواب پیدا کیږي بېله اداء کولو دفرائضو څخه نفل هیڅ معنی نه لري .

**دوهم :** دالله جل جلاله او دهغه دبندګانو دحقوقو خیال ساتل هم ضروري دی.

**دریم :** حلال او حرام جائز او نا جائز پېژندل هم ضروري دي . که نه نو بيا ددغه اورادو او اذکارو فايده نسته چي انسان حلال او حرام نه پېژني فقط دغه اوراد او اذکار کوي .

**څلورم :** دګناهونو څخه پرهيز کول خصوصا دبغض او حسد ، کينه ، عداوت ، غيبت ، درواغو څخه ، همداشان طعن او تشنيع (عيب او پيغور) پريو چابانـدي کول ځکه داهغه امور دي چي دانسان نېکياني برباد وي .

**پنځم :** دهغه کارونو تلاش کول کوم کارونه چي دانسان دپاره مغفرت او بخښنه لازموي لکه يو مسلمان په خپل ښايسته اخلاقو باندي خوشحاله کول ، دهغه

لـوږه ورختمـول ، دهغـه مصـيبت ورليـري كـول يعنــي كومك ورسره كول .

الله جـل جلالـه دي مـوږ او تاسـي تـر ويلـو او اوريـدلو زيـات عمـل كولـو والا جـوړ كـړي او الله جـل جلالـه دي زمـوږ او ستاسـي ګناهـونـه پـه خپـل لطـف او كـرم سره او دخپـل حبيـب صـلى الله عليـه وسـلم پـه خـاطر او واسـطه سره رامعاف كـړي آمين يا رب العلمين .

(ختم سو بعون الله تعالى و توفيقه : ۲۹ /۶ /۱۴۳۴
جمادى الثانى / ۱۹ /۲ /۱۳۹۲ ثور )

This document was created with Win2PDF available at http://
The unregistered version of Win2PDF is for evaluation or nor